# د پوښتنو پاڼې: (چاپ شوی کتاب):

## ۱. عیسی راځي (مخونه ۱-۳) (متی ۳: ۱- ۱۷)

۱. ولې خلک د سیند غاړې ته راټول شوي وو؟

۲. یوحنا خلکو ته څه وویل چې د اسماني پاچاهۍ د راتلو لپاره څه چمتووالی ونیسي؟

## ۲. نه لیدونکې جګړه (مخونه ۴-۵) (متی ۴: ۱- ۱۲)

۱. روح القدس عیسی د تعمید غسل څخه وروسته چیرته بوتلو؟

۲. عیسی په دښته کې څه وکړل؟

۳. شیطان په کومو طریقو سره عیسی وازمایلو؟

۴. عیسی څرنګه د شیطان ازمایښتونو ته ځواب ورکړ؟

## ۳. د قانا په ښار کې واده (مخونه ٦-۷) (یوحنا ۲: ۱- ۱۱)

۱. ولې عیسی قانا ته لاړ؟

۲. عیسی په قانا کې کومه معجزه ترسره کړه؟

## ۴. له ما څخه پیروي وکړئ (مخونه ۸-۹) (متی ۴: ۱۲- ۲۲)

۱. عیسی د پطروس څخه څه وغوښتل چې ترسره کړي؟ کله چې پطروس اطاعت وکړ، نو څه پېښ شول؟

۲. راشه او زما نه پیروي وکړه ترڅو زه له تانه د انسانانو ښکاري جوړ کړم. تاسو څنګه کولای شئ خلک مسیح ته راوړئ؟

## ۵. د غره په سر باندې وعظ (مخونه ۱۰-۱۱) (متی ۵: ۱- ۱٦)

۱. هغه کسان چې د خدای د پاچاهۍ په خاطر ځورول کېږي او کړاوونهویني، نو هغوی به څه برکتونه ترلاسه کړي؟

۲. مونږ باید له خپلو دښمنانو سره څه وکړو؟

## ٦. شفا ورکول (مخونه ۱۲-۱۳) (لوقا ۵: ۱۷- ۲۵، ٦: ٦- ۱۱)

۱. مونږ د هغه ناروغ له ملګرو څخه کوم ښه درسونه زده کولای شو؟

۲. د عیسی هغه دوه مهم کارونه کوم وو چې د هغه ناروغ دپاره یې وکړل؟

## ۷. عیسی سره په کشتۍ کې (مخونه ۱۴-۱۵) (متی ۸: ۲۳- ۲۷)

۱. شاګردان په کشتۍ کې له څه ستونزې سره مخامخ شول؟

۲. عیسی دا ستونزه څنګه حل کړه او تاسو د عیسی د ځواک په اړه څه زده کولی شئ؟

## ۸. د شیطان له واک څخه خلاصون (مخونه ۱٦-۱۷) (مرقوس ۵: ۱- ۲۰)

۱. کله چې هغوی د بحیرې بلې غاړې ته لاړل، نو څوک یې ولیدل؟ عیسی د هغه دپاره څه وکړل؟

۲. عیسی د هغه سړي څخه د څه کولو غوښتنه وکړه؟

## ۹. خدمت (مخونه ۱۸-۱۹) (متی ۹: ۳۵- ۱۰: ۴)

۱. عیسی د دعا لپاره چیرته لاړ؟ تاسو له دې موضوع څخه کوم ښه درس زده کولای شئ؟

## ۱۰. عیسی پریمانه ورکوي (مخونه ۲۰-۲۱) (یوحنا ٦: ۱- ۱۵)

۱. عیسی څه وکړل ترڅو دا وښیي چې هغه په خلکو باندې رحم کوي؟

## ۱۱. ایمان راوړئ یا لاړ شئ (مخونه ۲۲-۲۴) (متی ۱۴: ۲۲- ۳۳، یوحنا ٦: ۲۲- ۴۰، ٦۰- ٦۹)

۱. ولې پطروس په ډوبیدو پیل وکړ؟

۲. ولې چې عیسی له خپلو شاګردانو وپوښتل، ایا تاسو هم غواړئ چې ما پرېږدئ؟

۳. د هغوی ځواب څه وو؟ تاسو ترې څه زده کوئ؟

## ۱۲. خپل صلیب راواخلئ (مخ ۲۵) (متی ۱٦: ۱۳- ۲۸)

۱. کله چې عیسی د خپلو شاګردانو څخه وپوښتل چې، خلک څه وایي چې زه څوک یم؟ نو د دوی ځواب څه وو؟

۲. عیسی وایی هغه څوک چې د هغه څخه پیروي کول غواړي، نو باید څه وکړي؟

## ۱۳. شکر کوونکی اوسئ! (مخونه ۲٦-۲۷) (لوقا ۱۷: ۱۱- ۱۹)

۱. چا عیسی ته زارۍ وکړې چې هغو ته شفا ورکړي؟

۲. کله چې څښتن خدای زموږ دعاګانې قبلوي، نو هغه له موږ څخه څه تمه لري؟

## ۱۴. د ماشوم په څېر شئ (مخ ۲۸) (لوقا ۱۹: ۱- ۱۰، متی ۱۹: ۱۳- ۱۵)

۱. ولې یهودي مشرانو خپل خدمتګار اړ کړ ترڅو د عیسی څخه پیروي وکړي؟

## ۱۵. عیسی ژوندون ورکوي (مخونه ۲۹-۳۰) (یوحنا ۱۱: ۱۷- ۴۴)

۱. د دې خبرې څخه د عیسی مقصد څه ؤ چې وې ویل: زه قیامت او ژوندون یم؟

## ۱٦. هغه باید مړ شي (مخونه ۳۱-۳۱) (یوحنا ۱۱: ۴۵- ۵۴)

۱. عیسی څوک بیرته ژوندی کړ؟

۲. ولې یهودي مشران په عیسی او د هغه په پیروانو باندې په قهر وو؟

## ۱۷. د عیسی قدردانی (مخونه ۳۲-۳۲) (یوحنا ۱۲: ۱- ۱۱)

۱. کله چې مریمه د عیسی په پښو کې عطر واچول، نو عیسی وویل چې هغه غواړي څه وکړي؟

## ۱۸. عاجز پاچا (مخونه ۳۳-۳۴) (لوقا ۱۹: ۲۹- ۴۴)

۱. ولې عیسی اورشلیم ته په کوچاڼے باندې سپور د ننه شو؟

۲. د قربانۍ کوم ورى کولای شي زمونږ ګناهونه پاک کړي؟

## ۱۹. لوی پاکوالی (مخونه ۳۵-۳٦) (لوقا ۱۹: ۴۵- ۴۸)

۱. کله چې عیسی عبادتخانې ته ور دننه شو، نو ولې په خلکو باندې په قهر شو؟

## ۲۰. خیانت (مخونه ۳۷-۳۸) (متی ۲٦: ۱۴- ۱۹)

۱. چا پیسې واخیستې او د عیسی سره یې خیانت وکړ؟

## ۲۱. د پښو مینځل (مخونه ۳۹-۴۰) (یوحنا ۱۳: ۱- ۳۵)

۱. د فسحې د اختر اهمیت څه دی؟

۲. د دې خبرې څخه د عیسی مقصد څه و: که څوک غواړي لوی وګڼل شي، نو هغه دې باید د نورو خدمتګار شي؟

## ۲۲. غوره ماښامی (مخ ۴۱) (متی ۲٦: ۲٦- ۳۰، یوحنا ۱۳: ۳۴- ۳۸)

۱. د عیسی مقصد څه ؤ کله چې هغه وویل چې دا ډوډۍ زما بدن دی او دا پیاله زما وینه ده؟

۲. عیسی څه وویل چې شاګردان باید څه وکړي ترڅو دا وښیې چې دوی واقعیاً د هغه پیروان دي؟

## ۲۳. ګرفتاري (مخونه ۴۲-۴۳) (یوحنا ۱۴: ۱- ۳۱، متی ۲٦: ۳٦- ۵٦)

۱. عیسی څه وویل چې پلار به یې دوی ته څه واستوي؟

۲. کله چې عیسی وویل چې "زه لار، حق او ژوندون یم"، نو د هغه مقصد څه ؤ؟

## ۲۴. محاکمه (مخونه ۴۴-۴۵) (متی ۲٦: ۵۷- ۷۵)

۱. چا د عیسی د پیژندلو څخه انکار وکړ؟

۲. یو عیسوی څه ډول د عیسی څخه انکار کوي؟

## ۲۵. د مرګ سزا (مخونه ۴٦-۴۷) (متی ۲۷: ۱۱- ۳۰، یوحنا ۱۸: ۲۸- ۴۰)

۱. ولې عیسی ونیول شو؟

## ۲٦. صلیب ته (مخ ۴۸) (یوحنا ۱۹: ۱- ۱۸)

۱. عیسی له خپل پلار څخه وغوښتل چې د هغه کسانو لپاره څه وکړي چې هغه یې په صلیب باندې ځوړند کړ؟

۲. مونږ له دې څخه څه زده کولای شو؟

## ۲۷. لعنت شوی (مخ ۴۹) (متی ۲۷: ۳- ۱۰، لوقا ۲۳: ۳۲- ۳۴)

۱. د کوم غل سره عیسی ژمنه وکړه چې هغه به په جنت کې وي او ولې؟

## ۲۸. عیسی مړ کیږي (مخونه ۵۰-۵۱) (لوقا ۲۳: ۳۲- ۴٦، متی ۲۷: ۴٦- ۵۰، یوحنا ۱۹: ۲۵- ۳۰)

۱. وروستۍ خبره چې عیسی د خپل روح د سپارلو نه وړاندې وکړه، څه وه؟

## ۲۹. د عیسی قرباني (مخ ۵۲) (یوحنا ۱۹: ۳۱- ۴۲)

۱. کله چې میرمنې په دریمه ورځ قبر ته لاړې نو فرښتې ورته څه وویل؟

## ۳۰. عیسی ژوندی دی! (مخونه ۵۳-۵۴) (مرقوس ۱٦: ۱- ۹، یوحنا ۲۰: ۱- ۱۸)

۱. کله چې عیسی مریمې ته ښکاره شو، نو هغه هغې ته څه وویل؟

## ۳۱. عیسی زمونږ سره (مخ ۵۵) (لوقا ۲۴: ۱۳- ۴۳، یوحنا ۲۰: ۱۹- ۲۹)

۱. عیسی پطروس او خپلو نورو شاګردانو ته څه وویل چې هغوی څه وکړي؟

## ۳۲. نور نه "زه لومړی"! (مخونه ۵٦-۵۷) (یوحنا ۲۱: ۱- ۱۹، متی ۲۸: ۱٦- ۲۰)

۱. کله چې شاګردان راټول شول او دعا یې کوله، دوی د خدای څخه څه شی ترلاسه کړل؟

## ۳۳. شاهد (مخ ۵۸) (د رسولانو عملونه ۲: ۲۲- ۳۹)

۱. څه ثبوت دی چې خدای د نړۍ سره مینه لري؟

## ۳۴. ښځتن خدای نږدې دی (مخ ۵۹) (افسیسیان ۱: ۱- ۱۵)

۱. څه ثبوت دی چې خدای د نړۍ سره مینه لري؟